ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار ۲۰۱٦/۰٤/۰٤

# د پرانیستو تېیو خوب


باچاخان سمینار: جرمني- کولن، نومبر ۲۰۰۸

زه ځیرکیار واګپوه(پولیټیکل ساینټیسټ) یم او هرچا او هرې پیښې ته د خپل مسلک له ګوټ نه کسم. ما د باچاخان فخر افغان ځوي اروابناد خان عبدالولي خان د یو تکړه افغان واکیالي (سیاستمدار) په څیر پېژانده. خو اوس چې مې (د خان عبدالولي خان خطونه: دجهانزېب نیاز سوغات. لاهور: ملت پرینټینګ پرېس، جولای ۲۰۰۶) ولوست، د هغه د سړیتوب په نورو ښندو هم پوه شوم. ولیخان نه یواځې یو غټ واکیالی و، بلکې سترګه ور نیوکګر(نقاد)، د زده کړې پټنګ او د پښتو ادبیاتو د ګل بڼ یو ځانګړی ملیار و. دغه ګل بڼ دهغې ژورې سمڅې په خوله کی جوړشوی

و چې تل ته یې د ولیخان په شان حساس لیکوال ورکوزیدلی شو. په دغه تکه تیاره سمڅه کې د ولی خان ارمانونه غلي شوي وو او د هغه د ادبي ګلبڼ چاپېریال یې جوړ کړی و. دغه توره او ژوره سمڅه د ولي خان د پلار کور و. په همدغه بوګنوونکې سمڅه کې ولی خان د پښتنو د مشر نیکه خوشال خان خټک بابا کړیکه هم واورېدله

پښتنې جونې دې زلفې باد ته نیسي ..... چې شمال یې باد راوړي و رتمبور ته.

رتمبور د مغلو زندان و چې خوشال خان بابا پکې پروت و، او ولي خان هم د شلمې پېړۍ په نیمایي کې د مغلو د ورستنیانو(د برتانوي پاکستان د واکمنانو) په زندان کې پریوت.

ولی خان به خپل ترورزي جهانزیب نیاز ته «بِلو» وایه (جهانزیب نیاز د باچاخان فخرافغان د مشرې خور ځوی دی چې په پنځلس کلنۍ کې یې د سیاسي زندان خوند څکلی و او د ولي خان کلک ملګری و). په بلوڅستان کې له «مچ» نومې زندان نه ولي خان د ۱۹۵۱ د فبروری په ۱۹ بلو ته لیکي چې اکرم خان او صفدرخان ورته د ګوړې، مالټو او د نرګسو پیټۍ ورلیږلې وې. «بلو! ته پخپله فکر وکړه چې د هر څه نه علاوه په دې سپیره، سوراړه او ساړه سماواتي ماحول کښې د نرګسو ګلونه او هغه بوی چې څومره اوده او خوبیدلي ارمانونه را لړزولي وي – فوراً مې خیال هغې واقعې طرف ته لاړو- چې کله خوشحال خان خټک د ګوالیار په قلعه کې د مغلو بندي و، نو هغه هم هغه ارمان کړی دی کوم چې د هر یو بدر بندي په زړه کښې کله نا کله را پورته کیږي. د وطن په هغو یخو او سپکو اوبو پسې او د ملک په نرۍ وږمه اوشمال پسې. اکرم دوی ته مې ولیکل ما وی ارمان! چې د خوشحال خان


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

هم زما په شان میین او خواږه یاران وای، د وطن اوبه یې ورله په مالتو کې نغښتې او د سحر ښه یې ورله د نرګسو په پونو کې لیږلې وای چې د هغه تنده سړه او تېر یې یخ کړی وای - څه صفت درته وکړم.» ۷۴ مخ
یو کال وروسته (۷ فبروري ۱۹۵۲) په بلوچستان کې له کوېټې جیل نه ولی خان د خپلو ماشومانو (نسرین، پروین، ببوګلې، او اسفندیار) په اکله د خپل ملګري او ترورزې جهانزېب نیاز سره د زړه خواله کوي: «دتصویرونو رالیږلو او د نسرین دي سره د دیدن کولو دې په پېدونو شکریې.... ستا خبره په ګل بدله چې د ماشومانو هم دا دتولو نه دلچسپ دور دی د کوم نه چې نن سبا اسفندیار تیریږي. د خوشحال بابا هغه وینا به دې اورېدلې وي چې په هندوستان کې د مغلو مسلمانانو د لاسه بندي و. نو وی به یې چې دا مې ارمان دی چې زه د بند نه ووځم نو زما بچی به د خپل بهترین دور نه اوتی وي....» (۱۰۸ مخ). اسفندیار له مور نه د یوې ګینتې پاتې شوی و (۱۹ فبروری ۱۹۴۹، مخونه ۳۱، او ۷۷). دا هغه مهال و چې ولی خان په زندان کې و او د هغه مهال حکومت ورته اجازه ورنکړه چې د خپلې میرمنې (بي بي تاجو، د پوهاند جهانزېب نیاز خور) په جنازه او فاتحه کې برخه واخلي.
ولي خان له دېنه وېرېږي چې که له سمڅې نه ووځي، خپل نالیدلی ځوی «جناب اسفندیار» به یې ونه پیژني: «څه عجیبه تماشا خو به وي چې پلار او ځوی یو بل ته مخامخ شي، او خوند به هله وکړي چې هغه ساپته انکارشي چې دا زما هدو پلار نه دی - او پکار دي چې همدغسې وکړي ولې چې هغه څه پلار او څه د پلار مینه لیدلې ده.» ۱۳۱ مخ. د ډیره اسمعیل خان له مرکزي جیل نه ولیخان خپل غمشریک ملګري او ترورزې جهانزیب نیاز ته لیکي (۲۴ فبروري ۱۹۵۲) چې «په څلور کاله پس مو یوبل سره سترګې لګیدلې وې.» ۱۴۰ مخ. د دغې لیدنې له امله ولي خان په «خیالاتو او دماغي تصویرونو» کې ډوب شو: «څومره خوشحالي چې مې ستاسي په لیدو زړه ته رسیدلې وه هغه یې را نه ووېسته. حقیقت دادی چې د هر یو جذباتي تینګار(تینشن) خپل رد عمل وي. ولې هر څه چې وشو، ښه وشو. ستا او ګل دادا [د نیاز مینځومی ورور] لیدنه وشوه او واړه مو وپیژندل – جناب اسفندیار سره مو مخامخي وشوه. ما سره خو ډیره سودا وه، خو ښه وه ډیره ناروا یې ونکړه او سا پته انکاري نشو؛ ماسره خو دغه غم و.» ۱۴۱مخ
زما ځیرکیار په اټکل، ولي خان لومړی پښتون و چې په زندان/جیل کې یې پینځه شپیته نیم کالونه وړاندې په کال ۱۹۵۰ زییز کې د «سوشل ساینس» (ټولنپوهنې) مواد راټول کړي وو: «زه یو کتاب لیکم په پښتو کې په ,,سوشل ساینس,, باندې – پښتو ژبې ته ګوره او دې دومره مشکل او ناشونې مضمون. خو ما اراده کړې ده، څه ناڅه نوټونه مې اخیستي دي.» ( په لر افغانستان/ بلوڅستان کې د مچ زندان: ۲۴ اکتوبر ۱۹۵۰،مخ ۴۶). زما ځیرکیار هیله داده چې یو څوک د دغه پلان شوي کتاب لاسي نسخه یا نوټونه د بلوڅستان په مچ او کوټه جیلونو کې، د ډېره اسمعیل خان په زندان کې،په هریپور زندان کې او د اړوندو استخباراتو په ارشیفونو کې ولټوي او علمي ډګر ته یې را وباسي. پوهاند جهانزېب نیاز زما په هیله د ولي خان ټول کور لټولی و، خوهلته یې هیڅ ونه میندل. ګوندې دپینور پوهنتون/پښتو اکاډمي او کویټې پوهنتون/پښتو اکاډمي پوهان په دغه اړه اقدام وکړي. ولي خان په ډېره دون کې د کمبریج سینیر تر پړوئ زده کړه کړې وه چې د نن ورځې د «بي. اې.» تیاری نیولو ته نږدې ښکاري.
Cambridge Senior/B.A. preparation?
د دغې زده کړې په مټ، ولي خان د لویدیزې نړۍ د فکري انسجام او د علمي موضوع د څیړنې د ټړې سره اشنا شوی و. که ذکر شوې نسخه څه نا څه بشپړه شوې ومیندل شي، د ولي خان د سیاسي او ادبي سریتوب په څنګ کې به د هغه علمي سریتوب هم رابرسیره شي. په کتابونو باندې د ولي خان کره کتنې (نقدونه) ښئ چې ده علمي با

ریکیو او ژورو ټکیو ته کلک پام کاوه. ناشوني به نه وي چې ولي خان به په پښتو ژبه کې د کره کتني په مخکښانو کې وشمیرل شي

منلی ډاکتر شیرزمان طائزي د عالم مشر پوهاند جهانزیب نیاز په کتاب (د خان عبدالولي خان خطونه) باندې یو خوږه او ګټوره سریزه لیکلې ده. هلته کاږي چې په «حقیقت کښي خط د لیکونکي او چاته چې لیکلی شي د هغو دوو افرادو تر منځ د راز او نیاز خبرې وي او دریم فرد د هغې د لوستلو حق نه لري. خو ریاستي ادارو کښي که قانون د لیک او وینا ازادي ورکوي نو د قانون ساتونکي لکه د خپسي د دې ازادی په مرئ پنجه ښخه کړې وي. خپسه مې ځکه وویل چې د سینسر په نوم د خفیه ایجنسو ماهرین خطونه پرانیځي او ګوري خو په داسي طریقه چې عام سړی پرې پوی نه شي.» ۵ مخ. د ډاکتر طائزي دغه وینا سمه ده ځکه چې په حقیقت ولاړه ده، په هغه حقیقت چې خان عبدالولی خان ورنه پینځه شپیته نیم کالونه وړاندې په ډېر مهارت سره څېونی لرې کړی و. ولي خان د کال ۱۹۵۰ زییز د جون په۱۲ نیټه په بلوڅستان کې له مچ جیل نه خپل تروړزي او بیګارچي «بِلو» یاني اوسني پوهاند جهانزېب نیاز ته داسې لیکلي وو:« ربښتیا بلو یوه خبره مې دا کوله دا خطونه ستاسو چې دلته مچ[جیل، بلوڅستان] ته راشي، نو دوی یې بیا دغلته پېښور ته د سینسر[سانسور] د پاره درلیږي. د دوی ټول خطونه خود پېښور سي-آی- ډي[استخباراتو] په معرفت راځي، خو زما دا دلته د کوېټې سي-آی- ډي له تلل اوس یې دوی واپس پېښور ته لیږي. نو ښه به دا وي چې که خطونه ماته زر رارسول غواړئ، نو په دې پته* یې رالـږئ نو زر به رارسي.»- ۴۳ مخ

*) Abdul Wali Political Prisoner c/o A.I.G.C.I.D. Peshawar

نږدې شپږ میاشتې وروسته (۲ جنوری ۱۹۵۱زییز) ولي خان بیا په بلوڅستان کې له مچ زندان نه بِلویاني «خپل ورور او یار» (جهانزی نیاز) په یو ټکي خبرول غواړي:«یوه خبره داده چې ټول کتابونه د سي – آی - ډي په معرفت د رالیږلو ضرورت نشته. زمونږ دې رولز[مقرراتو]کښي داسي دي چې کتابونه او اخبارونه [د جیل/زندان] د سُپراینټېنډېنټ[آمِر،مدیر،ناظر] پـه ذریعه راځي- او که هغه کښې د موجوده سیاست او ګـورنمینټ خـلاف څـه نه وي نو هغـه یـې راپرېږدي.» - ۶۸ مخ. [څه ته چې ډاکتر طائزي خپسه ویلي ده، زه ورته په امریکه کې «تـور بـې بـې» (بلیک لیډي) وایـم] – څـیرکیـار

د توربي بي په کیسه به هله پوه شئ چې زما او د پـوهاند جهانزیب نیاز په پیـژندګلوی او ورپسې زمونږ دواړو په لیکنی راشه درشه خبر شئ. د زییز کال ۲۰۰۶ د جولای په یو ماښام راته منلي پوهاند نیاز ټلفون وکړ او ځان یې راته په په پښتو راوپیـژاند. له خوښی ورته و پسخـدلم. نـږدې دري میاشتي د چا سره په پښتو نه وم غږېدلی. دی د شیکـاګو ښار په شاوخوا کې و او زه په سهیلي کلیفورنیا کې. یوه اونی وروسته مې دوه کتابونه وروليږل:رحمت ربي څیرکیار(راوپستونکی)، «ملنګ جان: د بي درباره ملي ژبي ملي شاعـر» ۱۹۹۵، او د هغه بل سرلیک و«د اسلام بی تـشـدده سـرتیری: باچاخان د خپلو غرونو سیال» ۱۹۹۹په انګریزي ژبه

Eknath Easwaran, Nonviolent Soldier of Islam: Badshah Khan, A Man To Match His Mountains. Tomales, Clifornia: Niligiri Press

نیاز ته کتابونه ور په ګوتو شوي وو. دا چې د کتابونو د پاکټ خوله به په لار کې څومره چینګه شوې وه یـا نه، هیڅ یې راته و نه ویل. ورپسې د ده له خوا یو پاکټ راورسید چې خوله یې څیرل شوې وه، خو په مینځ کې یې درې کتابونه روغ رمټ پراته وو: (۱) د خان عبدالولي خان خطونه: د جهانزېب نیاز د ژوند سوغات. لاهور:ملت پرینټینګ پرس، جولای ۲۰۰۶؛ (۲) جهانزیب نیاز، غني غني دی. لاهور: ملت پرینټینګ پرس، اپرېل ۲۰۰۵؛ (۳) جهانزېب

نیاز، زما د ژوند قیصه: څه اورېدلي، څه لیدلي. لاهور: ملت پرینتز، جنوري ۲۰۰۵. داډ مي ورکړ چي کتابونه یې په خیر راورسیدل. خو ورته ومي نه ویل چي دراستول شوو کتابونو د کځوړي خوله یې شلیدلې وه.

زه ځیرکیار د ۲۰۰۱ د سپتمبر د ۱۱ نیټي له بخولي راهیسي د پاکتونو د شلیدلو خولو سره روږدي شوی وم. دري واړه کتابونه مي په ډېره بیړه کي ولوستل او ډېر خوند او پند مي تري واخیست. یو څو ورځي وروسته راته د پوهاند نیاز له خوا یو بله کځوړه راپه ګوتو شوه چي دوه کتابونو پکي له ډاره ړچ نیولي وو، ځکه چي په ګومان سره توربي بې یې د کځوړې شونډې غوڅي کړې وې. یو د پښتو د وتلي شاعر اجمل ختک کتاب و: د ژوند چغه . پېښور:یونیورسټي بوک ایجنسي/جدون پرینټینګ پریس: لومړی ځل فبروري ۲۰۰۶. دوهم کتاب په انګریي ژبه وو

Mukulika Banerjee, The Pathan Unarmed. Oxford: University of Oxford Pess, ۲۰۰۰.

ما پوهاند نیاز ته د اګست ۲۰۰۶ په لومړیو کي، خپله یوه لنډه لیکنه ورلیږلې وه چي زما او د ده د ګډملګري ډاکتر ماما کبیر ستوري په مړینه را څرخیدله، په دې سرلیک: «پښتو په ګوانتانامو کي فارسي په ارګ کي»(۲۴ اپرېل ۲۰۰۶). د ۲۰۰۶ د اګیست په ۲۳ راباندې نیاز زیری وکړ چي زما دغه پینځه مخیزه لیکنه ورته وروسته له ډېر انتظار نه ور په ګوتو شوه. نیاز زیاته کړه چي څلور ځلي یې ولوستله. ما د ځان سره د دې ټپي په مټ اټکل کړه چي پوهاند نیاز به ولي دغه لیکنه څلور ځلي لوستلې وي

ماته په سترګو کي حال وایه ** * ** لاري کوڅي له غمازانو ډکي دینه

وړاندي ډاکتر طائزي «خپسي» ته ګوته نیولي وه: د خفسي یاني «خفیه ایجنسو ماهرین خطونه پرانیزي او ګوري خو په داسي طریقه چي عام سړی پرې پوهی نه شي». د ډاکتر طائزي د ځای خپسه زما د ځای د تور بې بې په شان سپین سترګي نه ده: د خپسي سلوک څه ناڅه دروند دی؛خپل هدف ته ځان رسوي خو هڅه کوي چي څوک پرې پوه نشي. زما د ځای تور بي بي شډله او بې نزاکته خپسه ده ځکه چي د ۲۰۰۱ سپتمبر ۱۱ نیټي د رټلو پیښو راهیسي د پاکتونو او کځوړو خولې څیري او غوڅوي.

ولي خان له سنټرَل جیل- هري پور نه د کال ۱۹۵۲د جون په۱۹ نیټه پوهاند جهانزېب نیاز ته په خپل لیک کي د خندا او ژړا بانډار جوړکړی دی ځکه چي په جیل کي یولسم اختر نمانځي! ولي خان دلته د بندیانو له مزو او ارامی نه ډک ژوند ته ګوته نیسي، له جیل نه بهر د ازادانو د خوښیو، تکلیفونو او مسولیتونو سره یې پرتله کوي، او بیا له دغه سریز تکتیک نه وروسته ډلو (پوهاند نیاز) په غوږ وهي چي لیکونه یې په ظاهري ارزښت (فیس ویلیو) و نه مني ځکه چي دریم څوک یې لولي: «ډلو! د بند دا یولسم اختر و. ولي اوس یې چي دلته کوم سُر او کیف پیدا کړی دی، هغه ستاسو بهر دنیا د خلکو کله نصیب کیدی شي...دلته خو د پرانیستو تیو خوب دی او بې د خوراک او خیتې سرولو[څرولو] نه بل شغل نشته... پاتي شوه خبره ستا او زما د خطونو. نو دغه زما او ستا د نغري د غاړې د میلس[مجلس؟] خبري دي. هغي کښي د قام څه نه چوسیږي او نه دغه د چاپ کولو دي. بله داچي دا په داسي حالاتو کښي لیکل کیږي چي هغه وخت د سړی دا فکر وي چي دریم تر مېنځه دی؛ او که زه او ته یوبل سره پس پس کوو، نوهم زمونږ د خلو[خولو] او غوږونو تر مینځ نور غوږونه دي. نو که اکثر د زړه هغه په زړه دننه پاتي شي او د دریم د وېرې نه بهر ته [بېر ته] را ننوځي.» ۱۲۲تر ۱۲۳ مخونه

هغه شیبي را نږدې کیږي چي د باچاخان خورزی او د ولیخان تروزی پوهاند جهانزېب نیاز به له امریکې نه لر افغانستان ته ستنیږي. ما هم ورته هغومره بیګارونه ور په غاړه کړل لکه ولیخان به چي له زندانونو نه ور په غاړه کول. ولیخان په ډېره اسمعیل خان کي له سنټرل جیل نه د کال ۱۹۵۲ د فیبروری په ۲۴ نیاز ته لیک استولی و. که

زه ځیرکیار له دغه لیک نه د ملاقات ټکی وباسم او په ځای یې د پیژندګلوئ ټکی ولګوم، نو زما حالت به لړوډېر هغه څه ته ورته وي چې په ولي خان تیر شوی و: «راته ګرانه ښلو....خط دې راورسیدو. ډېرې شکرېي، څو څو ځله مې ولوست. ستاسو سره د ملاقات نه پس چې په ما څه تیر شو، هغه په لیکلو کله څرګندېدی شي. په څلور کاله پس مو یو بل سره سترګې لګیدلې وې. هغه وخت خو زه ستاسو د دیدن په ننداره وم... ولې په زور یې هله پوه شوم چې ستا سو نه جدا شوم او په خپله چکی کې پرېوتم. ستاسو راتلو د هغه تیر او هیر وخت هغه ټولې نندارې په یوځل راوسپړلې. هغه ټول خیالات او دماغي تصویرونه چې ما چیرته خوندي کړي وو او په ټپه مې بند کړي وو، په مخه رادوسار شول، او داسې راباندې راخواره شول چې بیا مې ورته ځان نه شو سمولی.» ۱۴۰ مخ
د دې لیکنې لنډیز پوهاند جهانزیب نیاز په خپله «دستار» نومې مجله کې په پیښور/ لر افغانستان کې په ۲۰۰۶ / ۲۰۰۷ کې «د غورځونو تر مینځ نور غورځونه» په سرلیک خپور کړی و. د دغې ګڼې غټ شمیر یې په مینځنې ختیز کې په میشتو پښتنو وېشلی و. زه د پوهاند نیاز له دې ابتکار نه چې ما په منځنې ختیز کې د لر افغانستان افغانانو ته هم وروپیژنې د زړه له کومې مننه کوم. ۴ اپریل ۲۰۱۶

ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار
zirakyar١٢٣٤@yahoo.com